PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او زموږ په پیدا ینت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زموږ آیتونه دروغ گڼلي موږ به یې پورې په پورې داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهٔ رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۱۱ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غبرگولی ۳۱ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رجب المرجب ۳۰ مه د۲۰۱۲ م د جون ۲۰ مه

د حزب اسلامي افغانستان دوه سوه ځوانان د ننگرهار پوهنتون نه فارغ شول

رپورټ: عبدالله کامه وال

د حزب اسلامي افغانستان ځوانان دې د خپل مسلمان ولس په خدمت کې داسې هلې ځلې وکړي چې راتلونکو ته د لارې مشال شي. (استاد عبدالعلی)

د حزب اسلامي افغانستان ځوانان د اسلامي دعوت او د ټولنې د سالمې رهبرۍ په لاره کې تر بل هر وخت زیات مکلف دي. (استاد دکتور عزیز الرحمن مکي)

خپلې اسلامي مبارزې ته تر هغې ادامه ورکړئ تر څو موچې د خدای پر ځمکه د خدای نظام نه وي پلی کړې. (شیخ القرآن مولانا ضیاء الله حکیمي)

درییم مخ

حامدکرزي د شاه او عروس د اوبو او برښنا بند د جوړولو چارې پیل کړې

کابل، رسنی:
د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس حامد کرزي د کابل ولایت د شکردرې ولسوالی د شاه اوعروس د اوبو او برښنا بند د جوړولو کار، پرون د پټی په پرېې کولو سره پیل کړ.
حامد کرزي په داسې حال کې چې د انرژۍ او اوبو وزیر محمد اسماعیل خان، د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال، د ملي امنیت سلاکار ډاکتر رنگین دادفر سپنتا، کابل والي احمدالله علیزی او د ملي شورا ځیني غړي هم ورسره و، د پټی له پرې کولو وروسته، د دغې مهمې پروژې انجنیرانو او کارگرانو ته د مخابرې له لارې لارښوونه وکړه چې د بند جوړولو چارې پیل کړي.

پاتې ۴ مخ

در اولین کنفرانس مطبوعاتی بعد از اعلام پیروزی:

مرسی: درصدد انتقام گیری نیستیم، به همه مصری‌ها خدمت خواهم کرد

خبرگزاری فارس:
"محمد مرسی " نامزد اخوان المسلمین در اولین کنفرانس مطبوعاتی پس از اعلام پیروزی در انتخابات ریاست جمهوری به همه مصری‌ها قول داد که برای پیشرفت و آبادانی این کشور خدمت کند.
به گزارش فارس به نقل از شبکه خبری "الجزیره"، "محمد مرسی" در اولین کنفرانس مطبوعاتی پس از اعلام پیروزی توسط ستاد انتخاباتی‌اش از تمامی ملت مصر تشکر کرد.
وی با تاکید بر این موضوع که تمام ملت مصر خانواده من هستند، گفت که با پیام صلح برای تمام کسانی که صلح را دوست دارند، آمده‌ایم.

بقیه در صفحه ۴

وزیر عدلیه افغانستان:

خانه های امن به محل فحشا و بد اخلاقی برای یک تعداد زنان مبدل شده است

کابل، رسانه ها:
حبیب الله غالب وزیر عدلیه افغانستان که به روز یکشنبه در نشست آسیب شناسی زنان و اطفال در مقر شورای ملی افغانستان صحبت می کرد گفت، که خانه های امن به محل فحشا و بد اخلاقی برای یک تعداد زنان مبدل شده است.
آقای غالب همچنان گفت که این خانه ها خلاف فرهنگ اسلامی می باشد و موجودیت این خانه ها باعث تشویق زنان به فرار از منزل می شود.
در همین حال سیده مژگان مصطفوی معین وزارت امور زنان افغانستان در صحبت با

بقیه در صفحه ۴

د علماو خبرې به یواځې ولس مني او که حکومت هم د منلو مسؤولیت لري؟!

محمد خلیل

دشنبې په ورځ افغان حکومت له شلو ولایتونو څخه نږدې زر تنه دیني عالمان او د جوماتو ملا امامان پلازمینې کابل ته رابللي وو چې د نشه یي توکو د مبارزې پر وړاندې د حکومت دریځ او نظریه خلکو ته ورسوي.
ضرار احمد مقبل د نشه يي توکو پر ضد مبارزه کې د دیني عالمانو پر مټ عامه پوهاوې اغېزمنه وگڼله او له علماو څخه یې غوښتنه وکړه چې تاسې د اسلام دا پیغام خلکو ته ورسوئ چې د اسلام په سپیڅلی دین کې نشه يي توکي حرامې دي او دا داسې بده پدیده ده چې د افغانستان مسلمان ټولنه یې په نښه کړې او یو ملیون خلک پرې روږدي شوي دي.
د افسوس خبره داده چې د افغانستان مشکل یواځې تاریاک نه دی چې د علماو په مسئلو، وعظونو او نصیحتونو حل شي بلکې افغانستان د کړاوونو او مشکلاتو په ډنډ کې یو داسې ډوب هېواد دی چې تر څو پورې دغه خوسا او چټل ډنډ په بشپړ ډول پاک نه کړی شي افغانان به کله هم د ښې ورځې خاوندان نه شي.
یقیناً چې د نشه يي توکو کرل او د هغه تجارت د حرامو او ناروا کارونو له جملې څخه یو ناولې او د اسلام د سپیڅلی دین له لارښوونو څخه مخالف عمل دی خو دلته په افغانستان کې ددې په څېر لسگونه نور حرام او ناروا کارونه ترسره کېږي چې نه یواځې د افغانانو ژوند یې له ستر گواښ سره مخامخ کړی دی بلکې د هېواد د بقا او استحکام بنسټونه یې هم کمزوري کړي دي.
د افغانستان دیني علماو تل د منبر په سر پخپلو خطبو او تقریرونو کې د حلال او حرام په اړه خبرې کړې،

پاتې دویم مخ

د پاکستان سترې محکمې یوسف گیلاني سلب صلاحیت کړ

کابل، رسنی:
د پاکستان سترې محکمې د دغه هېواد د صدراعظم سید یوسف رضا گیلاني صلاحیت سلب کړاو په دې توگه په پارلمان کې هم له هغه غړیتوب واخیستل شو.
خو د گیلاني مدافع و کیل ویلي چې ستره محکمه دا واک نه لري چې له صدراعظمه صلاحیت واخلي، یوازې پارلمان کولی شي چې د هیواد صدراعظم سلب صلاحیت کړي.
د پاکستان سترې محکمې دوې میاشتې پخوا یوسف رضا گیلاني د محکمې په توهینولو محکوم کړی و څکه چې د محکمې په وینا گیلاني د ولسمشر زرداري د دوسیې د تعقیبولو لپاره د سترې محکمې امر ته اعتنا نه وه کړې.
د گیلاني مدافع وکیل وایي چې صدراعظم قانوني مصونیت لري او محکمه نه شي کولی د ده پر خلاف فیصله صادره کړي.
اټکل کېږي چې د پاکستان د سترې محکمې

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

چو در قومی یکی بی دانشی کرد
نه که را منزلت ماند نه مه را

می پذیریم که در میان جنگ جویان افغان خاصتاً آنهائی را که عواملی غیر معنوي به صحنه کارزار کشانیده بود کسانی هم یافت می شود که تصرفات آنها در ده سال اخیر نه به خود آنها آبرو مانده است و نه به دیگران که از نظر ظواهر با آنها مشابهت داشتن تنفگ و سلاح را حائز اند و بس.

انکار نباید کرد که افراد متعلق و مربوط به خانواده های ذوات مقدس مآبی که حتی عنوان رهبر و پیشوا را هم کسب کرده اند با این بزرگواران در رهبریت و زعامت در میدان رقابت اند ولی رهبریت انحرافی چون سردمدارای مافیای آدم ربائی، غصب زمین و ملکیت های دولتی، عامه و مردم بی دفاع، بدست آوردن امتیازی قراردادهای نیروهای اجنبی در افغانستان بکار بردن مکرو فریب برای اخذ ملکیت ها و تأسیسات دولتی تحت عنوان Privatization و حتی شاید سخیف تر از آن شاید با استفاده از همچو سرمایه های ناروا، زور، قدرت و تهدید تحمیل ازدواجهای نابرابر و نامتوازن را نمی توان از آنها دفع نمود.

اسفا که گاهی هم زعامت های مقدس نما در مقام دفاع از اقارب و منسوبین شان و لو قاتلان اجرتی هم باشند در مقابله با محروم ترین طبقات اجتماع ما که پامال این قلدران و بدمعاشان شده اند بی شرمانه در نجات این جنایت کاران از پنجه قانون جلالتماب و فضیلت مآب شان به وزرا، قضات و څارنوالان سفارش فرموده اند بدون توجه به آنکه شاید حق آنکه در این میان پامال می شود کدام مجاهد مظلوم و یا فامیل کدام شهید و مجاهد فراموش شده باشد.

باینوسیله می خواهم آنهائی را که "لمن کان له قلب او القی السمع و هو شهید" به این خطا متوجه سازم که آبروی جهاد عظیم ملت افغانستان را نباید پامال دفاع از مجرمین منسوب به خود گردانند چه این منسوب تنظیمی باشد و چه هم نسبی.

اما آنچه را که روز پیش خانم اصیلا وردگ یگانه عاملین و مشوقین همچو تجاوزات و زیاده روی ها را قوماندانان عنوان کرد باید صدائی غرض آلود و تباهکارانه شمرد که دشمنان جهاد باید بخاطر تسلی آتش درونی عقده مندانه شان سر می دهند.

این صداهائی است که یا از کویته تا امروز خواهران اصیله برای بدنام ساختن چهره های نامدار جهاد عناصر فرومایه را در لست آنها شامل نموده و با مهارت به بهانه جنایات آنها دامن پاک جهاد و مجاهدین فداکار را آلوده سازند. و یا آنکه مفت خواران لمیده در غرب که به یاری دشمنان جهاد و اسلام مترصد فرصت اند که چگونه می توانند و با استفاده از حماقت کدام عنصر پیوند کاذب داده شده با جهاد و مجاهدین تیری حواله جهاد و فرزندان اصیل این سرزمین نمایند.

خانم اصیلا ها که با تأسف بادو باران یازدهم سپتمبر کاروان شانرا تا وزارت خارجه افغانستان آورده است جز این وظیفه ای ندأرند که چگونه عقده مندانه جرایم فردی اشخاص مغرض و پست فطرت را بنام مجاهدین تعمیم نمایند و با تقدیم نمونه های مجهول رازهای پنهان شده در ضمیر خود را در بدنامی مجاهدین و قوماندانان رقم زنند.

خشونت علیه زنان نه اخلاق مجاهد و قوماندان جهاد است و نه هم با اسلام و اخلاق اسلامی رابطه ای دارد، تعدد زوجات در اسلام مجاری خودش را دارد که به هیچصورت از راه خشونت و نارضایتی زوجه قابل پذیرش نمی تواند باشد.

آنچه در عرف قبیلوی برای حل منازعات و رفع کدورت ها و تشنج بر زن تحمیل می گردد با اسلام عزیز رابطه ای ندارد و اسلام از آن بیزار است حتی نکاحی که در آن بشکل تبادله دو دختر (نکاح شغار) آنها را از مهر محروم گرداند در اسلام جا ندارد و این نوع نکاح صحت ندارد، چه رسد به آنکه اراده آزاد دختری را در انتخاب همسر سلب نماید.

چه ظلم بالاتر از آن باشد که خانواده ای طفلی را که در آغوش پرعطوفت پرورده است به نام "بد" به خانواده دیگری بسپارد که بجای اعزاز و اکرام به چشم دشمن به او نگاه شود و از احترام و محبت و صمیمیت محروم گردد.

اسلام که خانواده را کانون محبت و احترام به زوجه، دختر، مادر و خواهر می شناسد لحظه ای هم بار مسؤولیت خشونت را پذیرفته نمی تواند.

جابر بن عبدالله (رضی الله عنه) صحابی جوانک پیامبر اعظم صلی الله علیه وسلم برای آن به ازدواج با بیوه زنی تن می دهد که خواهران خورد سالش را که از پدر و مادر محروم مانده اند بخوبی پرورش نماید.

باور دارم هر گاه توطئه های شرمناک دشمنان اسلام در ایجاد تفرقه و نفاق در میان گروه های جهادی میان آنها و قایم نمودن نظام اسلامی در کشور فاصله ایجاد نمی کرد دیگر چیزی بنام خشونت علیه زنان در جامعه ما وجود نمی داشت و عده طفیلی و مجرم نمی توانست با شهرت قوماندان و مجاهد با اعمال شرمناک شان فرصت فراهم نمایند که کسانی مانند اصیلا از همچو نمونه ها برای بدنام ساختن جهاد و قوماندانان جهادی استفاده سؤ بنمایند.

د علماو خبرې به یواځې ولس مني او که حکومت هم د منلو مسؤولیت لري؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... حلال یې هم ښودلي او حرام یې هم، ان چې له هغو شیانو څخه یې هم د پرهیز کولو تاکید کړې چې د مشتبهاتو په جمله کې راځي او دهغه د حلت او حرمت په باره کې قاطع او صریح حکم نشته، خو له بده مرغه د حکومتي چارواکو په شمول ډېری افغانان په داسې لوی بدبختي کې اخته دي چې ځانو ته د غیرتي مسلمان او مؤمن ویلو باوجود د حلال او حرام توپیر نه کوي او هغه کړنې ترسره کوي چې یواځې د اسلام په دین کې لا څه چې د نړۍ په ټولو ادیانو او قوانینو کې حرام او ناروا ویل شوي دي، مثلاً قتل، بډه اخیستنه، فساد، ظلم، ناانصافي، غصب، ډاکه، لوټ ماري، غبن، قومي تعصب، اقربا پروري، بددیانتي، له هېواد، ولس او بیت المال سره خیانت، درواغ، شراب، چرس، افیون، د قانون بې احترامي او داسې نور... مګر ډېر غموونکی خبره داده چې په افغانستان کې دا هر څه ښه په درز کې روان دي، څوک د نشو او تماشو روږدي دی او څوک د رشوت، غصب، بداخلاقي، تعصب، وژنې او قومي تعصبونو. په خپله په حکومتي ادارو کې چې کوم فساد، درغلی، ناانصافي، بډه اخستنه، اقربا پروري، له بیت المال سره خیانت، غصب، چور و چپاول او تالان روان دی ټوله دنیا ورته ګوته په غاښ ده، په داسې حال کې چې د حکومت مسؤولیت او وظیفه داده چې د هېواد او ولس صحیح سرپرستي وکړي د قانون په کارولو سره د جرائمو جرړې وباسي، ظالم مجازات او مظلوم مکافات کړي، حقدار ته دهغو حق، او تېري کوونکي ته سزا ورکړي.

علماء او د ټولنې نیک اشخاص یواځې د نصیحت او وعظ مسؤولیت لري، هغوی ایله دومره کولې شي چې وګړو ته د الله او رسول لاره وښيء او پدې پوه کړي چې فلان فلان کارونه حرام، او فلان فلان کارونه حلال دي، او لدې زیات هیڅ واک او اختیار نه لري، نه له چا سره د جنګ جګړې زور لري او نه څوک په زوره له یو ناوړه کار نه منع کولې شي بلکې دا مسؤولیت د حکومت دی چې په هېواد کې د رائج قانون له مخې له قانون نه سرغړوونکو ته سزا ورکړي او په دې توګه د جرائمو مخه ډب کړي، که چېرته لوړ پوړي چارواکي او عدلي او قضایي ارګانونه پخپله تر ستوني په فساد کې ډوب وي، د رشوت په زور سلامت ملامتوي او ملامت ته برئت ورکوي نو یواځې د علماو او صلحاو په نصیحتونو به د نیکی پسرلی څنګه راشي؟ د بدي قوتونه او مجرمانه کړنې هله له منځه ځي چې قانون تطبیق شي، که چېرته یواځې په وعظ او نصیحت سره د بدي مخه نیول کېدای شوه نو د کائناتو پیدا کوونکی لوی الله به د حدودو او مجازاتو قانون نه و لېږلي، نه به د حکومت تصور موجود و او نه به د رعیت، نه به د خلیفه ضرورت و او نه به د وزیرانو، والیانو، ولسوالانو، قاضیانو او .... د اسلام په سپېڅلی قانون کې خو د حکومت مسؤولیت هم په ګوته شوې او د رعیت هم. چې په هېواد کې د امن امان او عدالت د تأمینولو ستر مسؤولیت د حکومت په غاړه اچول شوې ځکه چې له حکومت سره کوم

امکانات او قدرت دی له علماو او نورو عامو وګړو سره نشته.

د یو هېواد پر وګړو د یوه بام دوه هوا قانون نه شي چلېدلې او دا قانون هرګز د منلو نه دی چې حکومتي لوړ پوړیو چارواکو ته دې د هر څه کولو اجازه وي، هغوی چې څومره سرکاري او شخصي زمکی غصبوي او یا بیت المال غلا کوي د مور شیدو غوندې دې ورته حلال وي خو یو غریب او کمزورې انسان دې د یو معمولي جرم په ګناه کې د تورو تمبو شاته وغورځول شي، که یو با رسوخه چارواکی او سرمایه دار د ملیاردو ډالرو غبن او غلا وکړي هغه دې سرې سترګې وګرځي خو که یو غریب د مجبوریت له لاسه د خپلو ماشومانو د آذوقې د پیدا کولو لپاره پخپلو زمکو کې تریاک وکري نو هغه دې د قانون پنجې ته وسپارل شي او فصل دې ورته واړول شي.

چارواکي دې په دې حقیقت ځان پوه کړي چې په دې هېواد کې د جرائمو د زیاتېدو اصلي لامل پخپله په حکومتي ادارو کې د قانون نه رعایت دی، داسې ډېر لوړ پوړي حکومتي چارواکي لیدل شوي چې هغوی پخپلو زمکو کې د څو کلو راهیسې افین کري او یا هم له بزګرانو څخه د جوړ جاړې په نتیجه کې د منونو په حساب افین په رشوت کې اخلي که حکومتي چارواکی واقعاً په دې هېواد کې د نشه یې توکو ترڅنګ د نورو جرائمو په وړاندې بند اچول غواړي نو ددې یواځنی لاره داده چې له هر څه وړاندې همدوی د قانون احترام وکړي او ولس ته د عمل په ډګر کې دا ثابته کړي چې هغوی پخپله هم د قانون پابند دی او ولس هم د قانون منلو ته اړ باسي. که داسې نه کېږي او حکومتي چارواکی میم زرما ټول زما د منطق خپلولو سره له قانون نه ځان ماورا او پورته ګڼي نو نه د ملا امامانو د نصیحت له لارې اصلاح راتلې شي او نه هم د نیکانو په وعظونو او بیانیو. بلکې ملنډې لانور هم وهل کېږي که د قانون محافظین او د ولس قائدین او سرپرستان پخپله د قانون ښکې وباسي نو له عامو ولسي وګړو څخه د قانون د احترام کولو غوښتنه له لیونتوب پر ته بل څه نه شي کېدلې. جرمونه که په هره بڼه وي له یو بل سره د زنځیر د کړیو په څېر نښتي دي او یو جرم د بل جرم له پاره لاره هواروي، په ځانګړې ډول د حکومتي چارواکو جرم او له قانون نه سرغړونه دهغه مقناطیس مثال لري چې نور جرمونه هم ځانته راکاږي، لنډه دا چې د حکومتي چارواکو اصلاح د ولس د اصلاح سبب ګرځي او دهغوی فساد د ولس د فساد باعث ګرځي. نو ځکه ددې خبرې اشد ضرورت دی چې په لومړی ګام کې دې حکومتي چارواکي پخپله د دیني عالمانو پر وعظونو او نصیحتونو عمل وکړي، د اسلام په رڼا کې چې کومه لارښوونه ورته کوي هغه دې په ټولو ادارو کې تطبیق او خپل دیني او اسلامي مسؤولیت ترسره کړي، خو متأسفانه حکومتي چارواکي د علماو پر وعظونو او نصیحتونو د عمل کولو په ډګر کې بالکل عاري ښکاري او هغه کړنې ترسره کوي چې له اسلامي لارښوونو سره ښکاره په ټکر کې واقع دي.

که چارواکي واقعاً په افغانستان کې د ټولو جرائمو او ناروا کړنو مخه نیول غواړي نو هغوی ته پکار دي چې له هر څه وړاندې د اصلاحاتو لړۍ له خپلو دفترونو څخه پیل او خپل ولس لپاره یوه الګو او مثال وګرځي تر څو دهغوی دغه کړنه د ولس د اصلاح باعث وګرځي، ځکه چې رعیت د خپلو چارواکو په قانون چلېږي او دهمغوی تقلید کوي. که پخپله حکومتي چارواکي په غلطه لاره روان وي او د علماو خبرو ته اهمیت نه ورکوي نو ولس ته په کومه خوله د علماو په خبرو د عمل کولو بلنه ورکوي.

د حزب اسلامي افغانستان دوه سوه ځوانان د ننګرهار پوهنتون نه فارغ شول

د ننګرهار پوهنتون د مختلفو پوهنځیو نه د حزب اسلامي افغانستان د (۲۰۰) متعهدو ځوانانو د فراغت په ویاړ د حزب اسلامي افغانستان په ولایتي دفتر کې یوه درنه او شانداره غونډه جوړه شوه.

دا پرتمینه او شانداره غونډه دغبرګولي په ۲۶ مه د جمعې په سهار ۹ بجې دقاري رحمت الله له خوا د قرآن کریم په تلاوت پرانستل شوه.

دغونډې پرانسته او هر کلیزه وینا په ننګرهار کې دحزب اسلامي دولایتي دفتر مشر او جهادي شخصیت استاد عبدالعلي وکړه، استاد د نورو خبرو ترڅنګ د۱۳۹۱ کال ټولو فارغانو او په ځانګړې توګه دننګرهار له پوهنتون نه د حزب اسلامي فارغو متعهدو ځوانانو او دهغوی کورنیو ته مبارکي وویله او د ننګرهار پوهنتون استادانو او اداري کارکوونکو نه یې د دوی د عالي خدمتونو له امله قدرداني وکړه او پر فارغانو یې غږ وکړ چې د یو موټي خپلواک اسلامي افغانستان په ساتنه

او خدمت کې سره لاسونه ورکړي.

استاد عبدالعلي دحزب اسلامي ځوانانو ته په خطاب کې وویل: نن هغه ورځ رارسیدلې کومه ورځ چې تاسو، ستاسو د کورنیو او د حزب اسلامي ارزو وه، اوس تاسو په ټولنه کې عادي وګړي نه بلکې بامسؤولیته او ځواب ورکوونکي یئ، نو باید په ټولنه کې دحزب اسلامي دیو متعهد په توګه هغه کړنې ترسره کړئ چې زموږ د مبارزې ارمان دی او د خپل مسلمان ولس په خدمت کې داسې هلې ځلې وکړئ چې راتلونکو ته د لارې مشال شئ.

دغونډې بل ویناوال دننګرهار پوهنتون استاد دکتور عزیزالرحمن مکي و، استاد (ددعوت اسلوب او نظم ته اړتیا) ترعنوان لاندې یوه جامع اوعلمي وینا وکړه او د دعوت اسلوب، او په دې اړه چې د دعوتګرو ترمنځ نظم او یوالې څنګه راتلای شي او څنګه خپل دعوت په ښه توګه پرمخ وړی شي په زړه پورې مالومات وړاندې کړل. ښاغلی دکتور دا مهال دحزب اسلامي ځوانان د اسلامي دعوت او د ټولنې د سالمې رهبرۍ په لاره کې تر بل هروخت زیات مکلف وګڼل.

دیادې غونډې بل ویناوال دننګرهار ولایت جید عالم شیخ القران مولانا ضیاء الله حکیمي و، مولانا یوه جذابه او هر اړخیزه وینا وکړه چې دغونډې دګډونوالو له خوا دتکبیر په نعرو بدرګه کیده. نوموړي دخپلو خبرو په ترڅ کې ځوانانو ته وویل: راغلی ښکیلاکګر له موږ نه د هغه څه په مقابل کې چې دوی ورته پرمختګ او تمدن وایی زموږ دیني او فرهنګي ارزښتونه تروړي، افغاني غرور مو ګواښي او عزت مو لوټي، خو په مقابل کې راته وایي چې سرک پول او پولچک درته جوړوو خو موږ هغه بیارغونه او پرمختګ نه غواړو چې زموږ اسلامي او افغاني ارزښتونه پکې خوندي نه وي.

مولانا زیاته کړه: موږ له هغه مدنیت سره جوړ نه یو چې واګې یې دیو داسې شخص په لاس وي چې نظریات یې داسلام سره په ټکر کې وي او پدې

شهادتونو او قربانیو ګټل شوی، هېواد کې د اسلامي نظام پرته نور خوبونه ګوري. شیخ القران ځوانان دعصري علومو زده کړې ته وهڅول او هغه خبرې چې ګوندې علم یوازې اسلامي علوم دي په کلکه رد کړې.

شیخ زیاته کړه: زه هغه انجنیر، ډاکټر او د نورو د عصري علومو متخصصین چې د اسلام په ګاڼه سینګار وی او په خپله کاري ساحه او عملي ژوند کې اسلامي قوانین پلي کړي وي او یا د یو اسلامي نظام د راوستو لپاره هلې ځلې کوي ترهغه چا بهتر ګڼم چې دجماعت په کنج ناست دی او په ټولنه کې دفساد اوبې عدالتۍ په وړاندې چپ دی، مولانا حکیمي زیاته کړه په قران کریم کې د (واعدوا لهم مااستطعتم) او (اقیموا الصلواة) دواړه دامر صیغې دي نو څه رنګه چې د (اقیموا الصلواة) په پرېښودو کې ګناه ده همدارنګه د (واعدوا لهم مااستطعتم) په پرېښودو کې هم ګناه ده او په (واعدوا لهم ماستطعتم) کې انسان باید د دښمن په مقابل کې په مدرنو اوعصري وسایلو او تیکنالوژۍ سمبال وي او دا هر څه هغه وخت کیدونکي دي چې موږ ځانونه په عصري علومو پوه کړو خو دا هرڅه باید داسلام او انسانیت دخدمت لپاره وي نه دانسان وژنې او غیر اسلامي اهدافو دترلاسه کولو لپاره.

شیخ القران د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل: دافغانستان خاوره دننګیالیوخاوره ده او دا وطن د بازانو وطن دی دلته به بازان اوسېږي دا د ګیدړانو د اوسیدو ځای نه دی، دلته لا د اسلامي نهضت دشهیدانو وارثان ژوندي دي او د خپلو پلرونو او مشرانو کیسې یې لایادې دي چې دخپلو سرونو په نذرانه کولو یې هر متجاوز ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړي. د حزب اسلامي پر ځوانانو یې غږ وکړ چې کوم تعهد مو دحزب اسلامي سره کړی پر هغه ثابت قدمه پاتې شئ او هغه هدف ته درسیدو لپاره لا لار پاتې ده، نو له تاسو ځوانانو مې هیله اوغوښتنه داده چې بې حوصلې نه شئ مبارزه او جدوجهد په جاري ساتئ او خپلې اسلامي مبارزې ته به ترهغې ادامه ورکوئ ترکومې مو چې د خدای پرزمکه دخدای نظام نه وي پلي

کړی.

د دې پرتمینې غونډې بل ویناوال دننګرهار پوهنتون استاد او د اسلامي تحریک ځلانده څیره استاد عبدالهادي عاصم وه استاد د تېر په څېر یوه ارزښتناکه وینا وکړه او زیاته یې کړه: که غواړئ چې دسرلوړی او سوکاله ژوند خاوندان شئ نو سره یو شئ، د رب په رالېږلي کتاب قرآن کریم منګولې ولګوئ او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم په سیرت او صورت ځانونه ښکلي کړئ، ولسونه راویښ کړئ او دیو اسلامي نظام د راوستو په لیار کې هلې ځلې وکړئ.

استاد فارغو ځوانانو ته په خطاب کې وویل: ستاسو مسؤلیت له نن ورځې وروسته شروع شو تر ننه تاسو دټولنې پر اوږو بار وئ خو اوس ټولنه ستاسو د اوږو بار ده او دا ماته ګوده ټولنه به تاسو ځوانان تر منزله رسوئ.

استاد د حزب اسلامي ځوانانو ته وویل: تاسو دحزب اسلامي متې یئ او تاسو هغه ارمانونو ته تحقق ورکوئ دکومو ارمانونو دپوره کولو لپاره چې زموږ ولس نن هم حزب اسلامي ته سترګې په لار دی ځکه حزب اسلامي دعلماو، پوهانو او روشن فکرانو یوه قوي ډله ده چې د روانو حالاتو نه د دې ملک په ویستو کې زغرده رول لوبولې شي.

داستاد عاصم دعالمانه وینا وروسته غونډې ته له کابله دراغلي هیئت مشر او د ځوانانو دټولنې دعوت او تنظیم مسؤل او د کابل پوهنتون استاد محمد داود شیرزاد د مرکزي دفتر د مبارکۍ پیغام ترڅنګ خپلې ارزښتناکې خبرې هم وکړې.

ددې غونډې بل ویناوال دننګرهار دښوونې او روزنې علمي مرستیال او په ننګرهار ولایت کې دښوونې او روزنې خوږمن خدمتګار استاد ابو زاهد خپله ارزښتناکه او علمي وینا وکړه په غونډه کې دننګرهار پوهنتون دفارغو محصلینو په نمایندګۍ سلطان شاه سفاري وینا وکړه اوپه راتلونکې کې یې دخپلې خاورې اودین دخدمت لپاره دژمنتیا باور ورکړ.

غونډه دغرمې په لوس بجو محصلینو ته دولایتي دفتر لخوا د برابر شویو تحفو په ورکولو او دعایه پای ته ورسېده.

افغانستان هم پرمختګ کولې شي خو هله چې ...

عبیدالله صافي

هر افغان د خپلې خاورې او زمکې دهقان او خدمتګار دی او یوه خاوره تر هغه ښه حاصلات او فصل نه شي زرغونولې تر څو پورې چې دهغه بزګر او کروندګر پر خپلو زمکو ښه خوارې ونه کړي او د زرعي ماهرینو پر مشورو عمل ونه کړي او خپله زمکه دهغو اصولو په مطابق ونکري چې زرعي ماهرینو ورته په ګوته کړي دي.

که یو زرعي ماهر بزګر ته څومره ښه د کرلو تخم، پارو، د ګنده بوټو د منځه وړلو لپاره دوا او نورې ګټورې مشورې ورکړي خو که بزګر له هغو نه ګټه پورته نکړي او له خپلې زمکې سره مناسبه خوارې ونکړي نو دهغه زمکه کله هم ښه فصل نه شي ورکولې، نور بزګران به ښې ډېرې غلې دانې ترلاسه کوي خو هغه به تشه لمنه وړي. د افغانستان خاوره زموږ د افغانانو د کښت زمکه ده دا به هله ښیرازه او سمسور شي چې موږ ټول د خپلې خاورې د خدمت او سمسورتیا لپاره ملا وتړو، شپه ورځ ورته یو کړو ټول هغه اصول مراعات کړو چې د یو هېواد د پرمختګ لپاره خورا اړین او لازمي دي، خپلې پیسې او د بهرنیو هېوادو له خوا شوې مرستې پر ځای ولګوو او پر داسې پروژو کار وکړو چې د افغانانو د ژوندانه ورځنی اړتیاوې پوره او د نورو له ګدایي او محتاجی نه راوباسي.

ټولو ته ځرګنده ده چې زموږ هېواد په مصرفي هېواد بدل شوې څه چې لرو او یا هم د مرستو په نوم ترلاسه کوو هغه ټول په مصرفي توکو لګوو او تش لاسې پاتې کېږو، موږ افغانان باید په دې خبره ځان پوه کړو چې نه څوک ټول عمر له موږ سره خپلو مرستو ته تداوم ورکولې شي او نه هم موږ ټول عمر بل چاته د ګدایي کچکول نیولې شوو او نه هم د افغانستان له غیرتي ولس سره دا ښئ چې ټول عمر لپاره په سوال او ګدایي ځان روږدي او خپل وقار او عزت مجروح کړي.

دې لپاره چې د افغانانو راتلونکې ښه او د عزت او وقار ژوند خاوندان شي ددې خبرې ضرورت دی چې د خپل راتلونکې په اړه ژور غور او فکر وکړي او په داسې منصوبو او پلانونو کار وکړي چې افغانان د اوږدې محتاجی او ګدایي نه وژغوري، د خوراک، څښاک، پوشاک او نورو مدونو کې پخپلو پښو ودروي. که ډېر لوی لوی کارونه نه شي کولې لږ تر لږه په هغو وړو پروژو او کارخانو خو دې ضرور کار پیل کړي چې د افغانانو ځینې وړې اړتیاوې پوره کړي. مثلاً افغانان کولې شي چې پخپل هېواد کې د توکرو کارخانې جوړې او له دې لارې د ملیاردو مصارفو مخه ونیسي.

همداراز د صابون، غوړیو، درملو، فرنیچرو، قلمونو، بوټانو، چپلکو، مشروباتو، تارونو، ستنو، د ګنډلو مشینونو، د خرمنو د پخولو، بایسکلو، ګوګړدو او داسې ډېرو نورو وړو شیانو د جوړولو کارخانې پخپل هېواد کې فعالې او د زرګونو ملیاردو بې ځایه مصارفو څخه ځانونه وژغوري. خو ډېر افسوس چې د تېرو یو لسو کلو راهیسې په دې اړه هیڅ فکر نه دی شوې د خپل هېواد سرمایه هم له نورو هېوادو څخه د مالونو په واردولو له لاسه ورکوي او د نورو هېوادو څخه ترلاسه شوې مرستې هم بیرته د نورو هېوادو په جیبونو کې ولوېږي.

افغانستان په ګرده نړۍ کې د برق د پیدا کولو لپاره ښه سیندونه لري او دومره د قوي برق د تولیدولو استعداد لري چې ان نورو هېوادو ته هم ورکولې او پریمانه ګټه ترلاسه کولې شي، مګر متأسفانه تر ننه په هېواد کې د برق یو بند هم نه دی جوړ شوې او له نورو هېوادو څخه یې پلورې.

دا خیراتونه او سخاوتونه به د ټول عمر لپاره نه وي چې افغانان ورباندې خپل مشکلات حل کړي، بلکې یوه نه یوه ورځ دا ټول خیراتونه قطع کېدونکې دي او هغه ورځ رانژدې شوی چې افغانان ځانته پرېښودل شي، بیا به نه مرستې وي او نه خیراتونه. ښه به دا وي چې افغانان له دې طلایي چانس نه ګټه پورته او خپله پانګه په داسې ښنټزو کارونو ولګوي چې یوه څه سرمایه یې پخپل کور کې پاتې او بل چاته د ګدایي کچکول له نیولو څخه خلاص شي. یو هېواد کله هم پخپله ترقي او پرمختګ نه کوي بلکې اوسېدونکي یې ورته ترقي ورکوي. یوازې د هېواد د اوسېدونکو امانت داري، دیانت، زیار، صداقت، مینه او خلوص د هېواد د پرمختګ او ښیرازۍ سبب ګرځي، دا پر افغانانو ده چې د خپلې خاورې مخلص او زیار کښ دهقان په څېر تل لپاره چمتو او دهغه د پرمختګ او ښیرازي لپاره خپل ټول ځواک او استعداد په کار واچوي. که نه نو ټول عمر به د ژوند له خوږو څخه محروم او د ګدایي کچکول به په غاړه ګرځوي چې الله مکړه دا د افغانانو د استقلال او عزت د بایللو په بیه هم تمامیدلې شي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د ملي شورا د یو شمېرغړو غیر حاضري

Mohammad Arif Ludin (RFE/RL)

د سولې او جګړې انسټیټوټ په یوه رپوټ کې د ملي شورا د یو شمېرغړو د غیر حاضریو له امله شکایتونو ته کتنه کړې ده.

په مقاله کې راغلي: ولسي خلکو ډیرې موده په دې اړه شکایت کاوه، خو اوس د ملي شورا په دواړو جرګو او حکومت کې هم اوازونه پورته شوي دي او پر یو شمېر وکیلانو په دوامدارو غیر حاضریو تورنوي.

د سولې او جګړې انسټیټوت لیکواله مینا حبیب لیکې: د منتقدینو په باور، د ملي شورا د غړو دوامدارې غیرحاضرۍ او یو شمېر نورې تخطي ګانې پر ملي شورا او د دې هېواد پر ضعیف ډیموکراتیک سیستم د خلکو باور ماتولای شي.

د پروان یوه وکیل عبدالستار خواصي د سولې او جنګ انسټیټوت ته ویلي دي، چې له دې وروسته به ترشل ورځې د زیاتې غیر حاضرۍ په بدل کې د شورا د غړو، غړیتوب ځنډول کیږي.

د دایمي غیر حاضرانو نومونه به د دې لپاره اعلانیږي، چې خلکو ته معرفي شي او د غیرحاضریو په وړاندې به معاشونه هم کمیږي.

د یورو ایشیا ویو خپرونې د منځنی اسیا له دریو هېوادونو سره د امریکا د پوځي مرستو په اړه د مسکو تبصره خپره کړې ده.

معتبرې روسی ورځپاڼې کومیرسانت په وروستیو کې وویل، چې امریکا له قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان سره په افغانستان کې د خپلو پوځي تجهیزاتو په اړه په مذاکرو اخته ده.

یوه روسي ډپلومات کومیرسانت ورځپاڼې ته ویلي دي، چې مسکو د منځنی اسیا دې هېوادونو ته د امریکا دا پوځي ډالۍ نه شي هضمولای.

د روسي ډپلومات په وینا، دا د مسکو لپاره د منلو وړ نه ده.

یورو ایشیا ویو لیکي: د کومیرسانت په رپورټ د باور کولو په صورت کې ویلای شو، چې په دې خبرو کې ډیر پرمختګ شوی وي.

کومیرسانت د باخبرو سرچینو په حواله لیکلي وو، چې د امریکا متحد ایالات به د ۲۰۱۴ کال په پای کې له افغانستان څخه د پوځیانو د ایستلو په وخت، د منځنی اسیا دریو واړو هېوادونو ته زغره وال موټر، د ټانکونو لېږدونکې وسایط، بلډوزر، د مخابرې او د اور وژلو سیستمونه ، طبي وسایل ، د ابو ستر ټانکرونه او نور زیات مواد ور کړي.

د منځنی اسیا درې واړه هېوادونه ازبکستان ، قرغزستان او تاجکستان له روسیې سره ډله ایز امنیت د تړون غړي دي.

د یورو ایشیا ویو په لیکنه ، داسې څرګندیږي ، د امریکا له دې پلان سره د روسیې مخالفت مالي اړخ لري.

د خپرونې په حواله، هرڅومره ، چې ازبکستان ، قرغزستان او تاجکستان د امریکا د متحدو ایالاتو څخه زیاتې مرستې ترلاسه کړي، په هغومره اندازه له روسیې څخه د وسلو اخیستلو لپاره کم احتیاج پیدا کوي.

اوسمهال له روسیې څخه د وسلو او تجهیزاتو اخیستل د سیمې له عمده مسایلو ده.

سوله خوشحالی راولي

امان الله ابراهیمزی

سوله او ارامي د انساني ژوند بنسټ ابښودونکی ده. سوله د خوشحالی، سوکالی، ټولنېزې پرمختیا لپاره اړینه وسیله ده. په هر ځای کې چې سوله وي هلته نیمکرغی او خوشحالی وي. ټول وګړي پرته له ویرې خپل کارونه ترسره کوي. ماشومان زده کړې کوي، لویان، ښځینه او نارینه په ارامی سره په خپلو دندو لګیا وي. خپل شته بدني او فکري خواک د خپل هېواد د ابادۍ او ودانۍ په لاره کې مصرفوي.



چېرته چې سوله او امن نه وي هلته د انسانانو ژوند له ستر ګواښ سره مخ وي ټول وګړي یې بدمرغه، ناارامه او پریشانه وي، کلي او ښارونه یې ویجاړ او د علم او عرفان دروازې تړلی وي.

په هره سیمه کې چې سوله او ارامي نه وي، هلته ناپوهی او بدمرغی خپل تور وزرونه خوروي، کرکه او نفرت د خوشحالي او خندا ځای نیسي.

سوله د یوې کورنی له غړو نیولې بیا تر قومونو او ولسونو او په پای کې د یو هېواد دننه د استوګنو خلکو ترمنځ دهغوی په ورځنی ژوند اغیز کوي. که چېرته د دوو تنو ترمنځ پر یو شی خوابدی راشي اړیکی یې شلېږي که د یوې کورنی د غړو ترمنځ په یو شی خفګان راشي نو اړیکې یې ترېخېږي.

که یو ولس په خپل منځ کې یو له بل سره په جګړو بوخت وي نو ورځنی اړیکي یې پرېکېږي او ژوندون یې له سترو ګړاوونو سره مخامخ کېږي.

له دې څخه معلومېږي چې په جګړو کې داخلېدل او له سولې لاس په سر کېدل انسان له څومره سترو ګړاوونو سره مخ کوي.

په نړۍ کې هېڅ داسې مشکل نشته چې د خبرو له لارې حل نشي خو دا هله چې د خبرو لپاره غوړوونه کاڼه او ناپوهی ته ځای ورنه کړی شي زغم، حوصلې او تېرېدنی ته د یو بنیادي اصل په توګه وکتل شي. ملي ګټو ته په ځانې ګټو لومړیتوب ورکړی شي او پخپلو کې د یو بل شتون ومنل شي نو بیا داسې کومه ربړه نه پاتې کېږي چې حل او هواره نشي.

نو راځی چې ټول یو بل ته د ورورولی غېږی خلاصی کړو، یو بل ته پوره مینه او محبت ور کړو په خپلو منځو کې ټولی ناخوالی او بدمرغی له مینځه یوسو د خپل ولس او هېواد د پرمختګ لپاره په ګډه کار وکړو، تر څو د نورو له احتیاجه ځانونه خلاص او پخپل هېواد کې د سولې، پرمختیا او خوښی پسرلی راولو، او په ډاډمنه فضا کې ژوند وکړو.

لکه چې شاعر په شعر کې وایي:

هغه ورځ به بختوره وي هر ګوره
چې د سپینو زړونو تور نه وي له توره
کرکه نه وي یو له بله محبت وي
ورورولی سوله صفا وي ښه نیت وي

(د یو وдан پرمختللی او خپلواک افغانستان په هیله)

د افغانستان د اقتصادي ودې سرعت مخ پر کمیدو دی "احدي"

کابل، رسنی:

په داسي حال کې چې افغان حکومت د توکیو کنفرانس ته چمتوالی نیسي د سوداګرۍ وزارت خبرداری ورکړی چې لږ تر لږه د یوې لسیزې لپاره به افغانستان د تیر په څیر اقتصادي وده و نه لرې او ښایي دغه کچه د هر کال په تیریدو راټیټه شي.

ډیری افغانان اوس مهال اندیښمن دي چې ښایي د بهرنیو سرتیرو له وتلو وروسته د افغانستان اقتصادي پرمختګ ټکنی شي ځکه هغه په ملیاردونو ډالر به نور نه وي چې د بهرنیو سرتیرو د لګښتونو لپاره افغانستان ته راوړل کېږي او په یو نه یو ډول د هېواد اقتصادي سیستم ته داخلیږي.

د سوداګرۍ وزیر انوار الحق احدي وایې د دوی ارزونې ښیي چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به د افغانستان اقتصادي وده کمزورې وي خو سره له دې به هم تر ۲۰۲۵ کال پورې نړیواله ټولنه له افغانستان سره هر کال شاوخوا اته ملیارده ډالره مرسته وکړي چې شاوخوا نیمایي به یې د افغان دولت له لورې لګول کیږي.

احدي وایې که چیرته یو شمیر پروژې له پای ته رسیدو وروسته تمدید نه شي نودا کار به د وزګارتیا سبب او د ډیری کورنیو اقتصادي وضیعت به مخ په خوړ شي.

اوس مهال داسې ښکاري چې د نړیوالو مرستندویانو یو شمیر پروژې مخ په پای ته رسیدو دي او ډیری هغه افغانان د دغو پروژو په ختمېدو اوزګار کیږي چې د پروژو په بیلا بیلو برخو کې یې کار کاوه.

د سوداګرۍ وزیر انوار الحق احدي وایي دی ډاډه دی چې نړیوال به په توکیو کنفرانس کې له افغانستان سره یو لړ مالي ژمنې وکړي او حکومت به تر ۲۰۲۵ کال پورې له کومې جدي مالي ننګونې سره نه مخامخ کیږي.

انوار الحق احدي:

"زه د افغانستان د راتلونکې اقتصاد په اړه ډیر بد بین نه یم، ممکن زموږ اقتصادي وده به د اوس په څیرنه وي، زموږ وړاندوینې ښیي چې ښایي په کال کې تر شپږ سلنه پورې اقتصادي وده ولرو خو په ټوله کې به له اقصتادی ستونزو سره مخ نه شو ".

په تیره یوه اونی کې په دقیقه توګه د شانګهای له کنفرانس وروسته په افغانستان کې د ډالرو بیه خپل بې سارې حد ته لوړه شوې ده.

حامدکرزي د شاه او عروس ...

بیا، د هېواد جمهور رئیس له رسنیو سره د خبرو په جریان کې هغوی د شکردرې ولسوالی لوړو غرونو ته متوجه کړل، وې ویل: تاسو مو خپلې کامرې د افغانستان آسمان څکو غرونو ته ونیسی او دا لوړ غرونه وګوری. ده، وویل: دا هېواد په همدغو لوړو غرونو سره په دې ارزي چې خلک یې په عزت، آرامی او نیکمرغی کې ژوند وکړي ځکه چې دا زموږ هېواد دی او دا هېواد زموږ د ټولو په ګډ زیار او هڅه باندې آبادیدلی شي.

حامد کرزي د دغې پوښتنې په ځواب کې چې نړیواله ټولنه ولې له افغانستان سره د اوبو او برښنا د بندونو د جوړولو په برخه کې مرسته نه کوي، وویل: نړیواله ټولنه د افغانستان لپاره اوږدمهالې پرمختیایي طرحې نه لري. د بندونو جوړول زموږ خپل کار دی چې باید ترسره یې کړو، بودجه ورته پیدا کړو، په خپله یې طرحه جوړه او تطبیق کړو.

جمهوررئیس وویل: که موږ په دې تمه کینو چې نړیواله ټولنه دې موږ ته کار وکړي خو هغوی خپل پروګرامونه لري په کومو ځایونو او برخوکې چې هغوی غواړي کار کوي او په کومو ځایونو او برخوکې چې نه غواړي کارنه کوي. په کومو ځایونو کې چې له موږ سره کارکوي ورځخه مننه کوو، په کومو ځایونو کې چې کارنه کوي، لکه د نورو ملتونو غونډې دا زموږ دنده ده چې خپل هېواد په خپله جوړ کړو او له نورو څخه ګیله ونه کړو.

د انرژۍ او اوبو وزیر محمد اسماعیل خان دغه پروژه د هېواد په کچه یوه له مهمو پروژو څخه ګڼي او وایي چې دشکردرې ولسوالی د شاه او عروس د اوبو او برښنا د بند جوړولو چارې به د ایران د اسلامي جمهوریت د تابلیه پرهون طرح په نوم د یوې معتبرې کمپنی لخوا د اته څلویښت میلیون ډالرو په لګښت د درې نیمو کلونو په موده کې ترسره او دغه بند به د ۷۷ مترو په لوړ والي جوړ او ګټې اخیستنې ته به وړاندې شي.

مرسی: درصدد انتقام گیری ...

نامزد اخوان‌المسلمین مصر در ادامه گفت: هر کس که به من رای داد و هر کسی که رای نداد، تمامی آنها ملت مصر هستند .

وی جوانان مصری را امید این ملت برای آینده روشن این کشور در مسیر پیشرفت دانست.

مرسی با یادآوری یاد شهدای انقلاب مصر و مجروحان آن گفت که آنها حقی بر گردن ما دارند که باید ادا شود.

وی متعهد شد که در دولت قانون مصر حقوق قربانیان انقلاب در این دولت بازگردانده خواهد شد .

نامزد اسلام‌گرایان مصر تاکید کرد که به تمامی مصری ها از مسلمانان و مسیحیان خدمت خواهد کرد و به عنوان پدری برای تمامی قومیت های ملت مصر خواهد بود و با دیدی یکسان به تمامی مصری ها خواهد نگریست.

مرسی در ادامه گفت که در صدد انتقام و تسویه حساب نیست و همه فرزندان این ملت هستند که از حقوق و تکالیف یکسان برخوردار هستند.

ستاد تبلیغات انتخاباتی محمد مرسی در نشست مطبوعاتی پیروزی قطعی نامزد این حزب در انتخابات ریاست جمهوری را اعلام کرد.

بر اساس این گزارش، محمد مرسی با کسب ۵۲.۵ درصد آرا در مقابل ۴۷.۵ درصد آرای احمد شفیق به پیروزی رسیده است.

خانه های امن به محل فحشا ...

رادیو آزادی موجودیت یک سلسله مشکلات را در داخل خانه های امن تایید کرد، اما وجود فحشا و بد اخلاقی را در آنجا رد نمود.

به اساس معلومات وزارت امور زنان افغانستان، در حال حاضر ۱۲ خانه امن از طرف جامعه مدنی در کابل و شماری از ولایات افغانستان ایجاد شده که حدود دو صد و پنجاه تن از زنان و دخترها در آن زند گی می کنند.

د پاکستان سترې محکمې یوسف ...

پرېکړه به په دغه هیواد کې سیاسي بحران رامنځته کړي ځکه چې د ګیلاني له سلب صلاحیت کېدو سره د زرداري د لېرې کېدو او بالاخره د پیلز ګوند د واکمنی د پای ته رسېدو لار اوارېږي. دا هغه څه دي چې د پاکستان پوځ یې غواړي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com